مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۰۲/۲۷

# له کوره تر لاهوره

احمدشاه چې شو پادشاه په کندهار کې
نو یې ډول د اشر وواهه په ښار کې

خلک ټول شول او لښکر واړه تیار شو
د یومونو کولنګونو جوړ ناتار شو

مټورو زلمو ایستل خندقونه
واستاکارو جوړول پلن دیوالونه

شپه او ورځ خلک په کار باندې لګیا وو
ټوکه نه وه، داسې حکم د پادشاه و

چا په دې کړه زرغونه‌انا خبره
مدبره، پوهه، تُنده زړوره

چې زلمی پاچا څه کاندي؟ شوه حیرانه
په هغه ساعت له ځایه شوه روانه

زوی یې وغوښته په بېږه خپل حضور ته
لکه ولاړه چې موسی و کوه طور ته

احمدشاه په ادب لاس د ادې ښکل کړ
درناوی یې د ابۍ د لوړ درشل کړ

زرغونې ویل: زویه څه باندې لګیا یې
بوخت په ختو له سهاره تر بېګاه یې

احمدشاه ویل مورې! ښار پناه کومه
ګردچاپېره لوی دیوال پرې تاوومه

د دیوال شاته ژور خندق کیندمه
د دوښمن لاره په دې دواړو ترمه

ما لیدلي د دونیا لوړ حصارونه
ترې چارپېره ګرځېدلي خندقونه

کندهار به له دوښمنو څخه ساتم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

بس دلي به خپل رعيت په مينه پالم

مدبرې زرغونې کړې سترګې برندې
د زلمي پاچا خبرې يې کړې لندې

ويلي زويه! دا يوه خبره واوره
سلطنت دې په زندان مهشه حصاره

ته يوازې پاچا نه يې د دې ښار
لوی وطن دی شاوخوا د کندهار

چې دوښمن دې تر درشله پورې راشي
د مغول پيلان بورجله پورې راشي

ګردچاپېره د وطن خلک تباه کړي
کلابنده ستا د ښار دغه کلا کړي

ته وا بند به شې په دغو خندقونو؟
يا به وډار شې له دنګو ديوالونو؟

د افغان وطن د کلي او ښار خلک
ستا ولسونه دي د کور و بازار خلک

ته د ټول وطن د خلکو ساتندوی يې
د ښځمنو ماشومانو پالندوی يې

کلاګانو کې پټ نه اوسي شاهان
دوی وي وړاندې ورپسې وي سپاهيان

په دوښمن پسې ورځه د هغه ښار ته
تردې وړاندې چې دی راشي کندهار ته

په خپل کور کې جنګېدل لوی همت نهدی
دغه کار د غيرت نه، د حکمت نه دی

په هغه ورځ احمدشاه لوی شهنشاه شو
د پنجاب خواته يې مخ چې د سپاه شو

بيا يې مخه هيچا نه ده ګرځولې
چې افغان د لاهور لاره ده نيولې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ